RÉPUBLIQUE
FRANÇAISE
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

INSTITUT
NATIONAL
DU CANCER

# د HPV* سرطانونو ضد واکسین

## راځئ ټول ۱۱ کلن او لوړ عمر لرونکي هلوکان او نجوني خوندي کړو.



عملي لارښود

*HPV: د انساني پاپلوما ویروس (Human Papillomavirus)

# یو خوندي او اغېز کوونکی واکسین ځو زما ماشوم له (HPV) سرطانونو څخه وساتي.

**ستاسي ماشوم د ښوونځي په ۵م صنف کې دی او ستاسې د اجازې وروسته کېدای شي:**

- هغه د زدکړو په محل کې د یوه روغتیا پال لخوا واکسین شي.
- هغه ته به دوه ډوزه واکسین ورکړل شي، چې ترمنځ به يې ۵ میاشتي فاصله وي.
- دا واکسینونه تاسې ته په وړیا ډول درکول کېږي.

**تر دې دمه پوري د نړۍ په نږدې ۸۰ هیوادونو کې تر ۱۰۰ میلیونه ډېر ماشومان او نوي ځوانان واکسین کړل شوي دي.**

**په دې اړه د اضافي معلوماتو لپاره له خپل اړوند روغتیا پال سره خبري وکړئ یا هم دې ادرس ته مراجعه وکړئ: vaccination-hpv.e-cancer.fr**

2023 – DEPVACCHPVEN23 .مې – INCa – SIREN : 187 512 777 –چېر عامو سرکونو بې مه غور ځوئ

# واکسین په عملي ډول

## څه وخت باید خپل ماشوم واکسین کړم ؟

**له ۱۱ کلنۍ څخه وروسته مو د ماشومانو واکسین کول د واکسین ډېر موثریت تضمینوي.**

زما ماشوم دی:

- د ۱۱ او ۱۴ کلونو ترمنځ دی: یوازې دوه ډوزه واکسین باید واخلي.
- د ۱۵ او ۱۹ کلونو ترمنځ دی: باید درې ډوزه واکسین واخلي.

**اړینه ده وپوهېږئ: د (dTcaP*) واکسین لپاره د ملاقات وخت واخلئ، کوم چې له ۱۱ تر ۱۳ کلونو عمر درلودونکو کسانو لپاره په نظر کې نیول شوی دی. له دې سره یو ځای به د (HPV) یو ډوز هم ماشوم ته ولګول شي.**

*د ډيفتيريا ضد واکسين (D)، د تيتانوس (T)، د توري ټوخلې (Ca) او د ګوزڼ ضد واکسين (P).

## څنګه کولای شم خپل ماشوم واکسین کړم؟

د دواړو، لوڼو او زامنو په اړه غواړم ووایم:

- یو ډاکټر
- یوه قابله
- یو درمل جوړوونکی
- یونرس
- د واکسیناسیون ښاري یا اداري خدمتونه (له خپلې اداري شورا یا اړوند دولتي دفتر سره همږغي وکړئ.)

## کوم ممکن جانبي عوارض لرلی شي؟

د مطالعاتو په پایله کې لیدل شوي عمده عوارض د نورو واکسینونو په څیر دي: د پیچکارۍ په ځای کې عکس‌العمل (سوروالی، درداو/یا سوځیدل، سردردي، د سر ګرځیدل یا تبه او کم وختونه حساسیتي عکس‌العمل یا ناروغوالی چې ممکن د بې‌هوښۍ سبب شي.

ددغو جانبي عوارضو شدت ډیری وختونه سپک یا متوسط او لنډمهالی وي.

## د (HPV) واکسین څومره لګښت لري؟

- د واکسین د هر ډوز ۶۵ فیصده لګښت ستاسې د فنډ صحي بیمې لخوا ورکول کېږي. باقي مانده لګښت يې په عمومي توګه د بشپړوونکي بیمې (دوه اړخیزي بیمې او نورو) له لارې بیرته ورکول کېږي.
- واکسین کېدای شي، چې د واکسین په ځینو ښاري او اداري مرکزونو کې وړیا وي.
- هغه کسان چې له پیوستون اضافي روغتیایي بیمې (CSS) او دولتي روغتیایي خدمتونو څخه ګټه پورته کوي، له ټولو لګښتونو معاف دي.

د INCA052 د 148x210 ابعادو لرونکی د HPV ملي تعلیمی لیفـلیټ – اپریل ۲۰۲۴. indd ۱-۳

06/06/2024 12:10

# راځئ د انساني پاپلوما ویروس په اړه پوهاوی تر لاسه کړو.

## د (HPV) څه دی ؟

**دا (HPV) انساني ویرسونه دي، چې د پاپلوما ویروس په نوم یادیږي.**
په سلو کې ۸۰ تنه ښځې او نر د خپل ژوند پرمهال په دغه ویروس ککړیږي.
د (HPV) انفیکشن معمولاً د څو میاشتو موده کې له منځه ځي، خو یوه کوچنۍ اندازه ممکن پاته شي او ناروغۍ ته وده ورکړي.

## د (HPV) ویرسونو او سرطانونو ترمنځ څه اړیکه شتون لري ؟

د (HPV) نږدې ۲۰۰ ډولونه موجود دي، چې یو تعداد یې تر سرطان مخکې زخمونو او سرطان لامل ګرځي.
د (HPV) ویرسونه د مقعدي غودو د رامنځته کېدو سبب هم کیږي.

## د (HPV) ویرسونه څه ډول له یو کس بل ته لیږدول کیږي؟

دا ویرسونه په تناسلې برخو کې له عادي تماس نیولو سره، په ځانګړې ډول د کورواليي د کولو پرمهال د تناسلي الې د دخول او نه دخول په دوارو حالاتو کې له یو کس څخه بل کس ته لیږدول کیږي.

## پاپلوما ویرسونه هر کال په فرانسه کې د سرطان د ۶۴۰۰ نویو پیښو سبب کیږي.

سره له دې، چې د (HPV) ویرسونه عمدتاً ښځې متضرره کوي،خو یو پر څلورمه برخه یې سړیو ته ضرر پېښوي.

د (Shield او Hartwig ۲۰۱۵) پر اساس، په ۲۰۱۵ کال کې په فرانسه کې د (HPV) په ناروغیو د اخته شویو ښځو او سړیو تعداد

| | سړي | ښځې |
|---|---|---|
| د تناسلي آلې سرطان / د رحم د خولې او فرج سرطان | ۱۰۰ | ۲۰۰ |
| د مقعد سرطان | ۴۰۰ | ۱۱۰۰ |
| اوروفارنکس (د خولې، ستونې او نورو) سرطانونه | ۱۳۰۰ | ۴۰۰ |
| د رحم د خولې سرطانونه | — | ۲۹۰۰ |
| د فرج، رحم او مقعد تر سرطان مخکني زخمونه | ۱۳۰ | له ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ |
| د رحم د خولې تر سرطان مخکې زخمونه (CIN 2+) | — | نږدې ۳۰۰۰۰ |
| مقعدي غودي | نږدې ۵۰۰۰۰ | نږدې ۵۰۰۰۰ |

# زه د (HPV) سرطانونو ضد واکسین په اړه خبر شوم.

## ولې باید خپل ماشوم واکسین کړم؟

واکسین د (HPV) پر وړاندې ستاسې له ماشوم څخه ساتنه کوي، ځکه چې د (HPV) تر ۹۰ فیصده ډېر انتانونه د سرطان لامل ګرځي.

د لاندې خطراتو د مخنیوي لپاره یې د هلوکانو او نجونو دواړو لپاره سپارښتنه کیږي:

- تر سرطان مخکې زخمونه اویا هم د رحم د خولې، ولوا، فرج او مقعد سرطان
- نرم خو دردناک زخمونه، چې په پوست کې یا د مقعد او تناسلې ساحې مغز غشا ( verrues anogénitales) کې پیدا کیږي.

## خوندي او اغېزمن واکسین

کلکه نړیواله څارنه

د څه باندې ۱۵ کلونو په موده کې په ټوله نړۍ کې تر ۳۰۰ میلیونه د ډېرو ډوزونه سپارښتنه شوې ده.

**د (HPV) واکسینونو په پراخه کچه استعمال، د نړۍ په کچه په مختلفو هیوادونو کې د څارنې سیستمونو تطبیق او د ځانګړو مطالعاتو په پایله کې، چې د (WHO) لخوا هم تایید شوې، د واکسینونو خوندیتوب ثابت شوی دی.**

په دې توګه نو، د مثال په توګه، ددې واکسینونو او اتومیمون ناروغیو ترمنځ هیڅ اړیکه نه ده تثبیت شوې.

د (HPV) پر وړاندې د واکسینونو اغېزمنیتا (د سرطانونو او د رحم په خوله کې او په ښځو او سړیو کې تر سرطان مخکنیو زخمونو کمښت) د استرالیا په شان هیوادونو کې، چیرې چې د واکسین شویو ځوانانو تعداد زیاد دی، په ښه توګه سره لیدل کیږي.